**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

## حزب التحریر- کینیا په بریالیتوب (زموږ هر یو د شپون غونډې دی) تر سرلیک لاندې خپل کمپاین پایته ورساوه

د الله سبحانه و تعالی په فضل حزب التحریر- کینیا خپل کمپاین پای ته ورساوه، چې د ۲۰۲۰م کال، د اګېست پر ۲۵مه پیل او د ۲۰۲۰م کال د ډیسمبر پر ۳۱مه پای ته ورسېد. په دغه کمپاین کې هغه څه په ډاګه شول چې په کینیا کې د ښوونځیو د ماشومانو تر منځ جنسي کړنې او تېري د کویډ - ۱۹ له امله د ښوونځیو تړل وو.

د کمپاین په جریان کې د حزب التحریر ځوانانو وکولای شول چې پر جوماتونو او کوڅو وګرځي او مخامخ بحثونه تنظیم کړي، څو د پانګوال نظام او سېکولریزم ناوړه کړنې افشا کړي؛ چې نه یوازې په ټولنیز کړکېچ ونډه لري، بلکې ژوند یې ټول له ستونزو او کړکېچونو سره مخ کړی دی.

په ټوله کې اسلامي امت د خپل لومړني مسوولیت یادونه وکړه چې د غرب له کلتوري ناوړه او تخریبي فعالیتونو او همدا راز د دوی له یرغل څخه ماشومان وساتي او په هغوی کې اسلامي هویت تضمین کړي.

**د کمپاین هشټېګونه په لانې ډول وو:**

#کووېډ-۱۹- د پانګوال نظام - واقعیت - ښکاره کړ

#کووېډ- ۱۹ - سېکولرېزم - دین - له - ژوند - څخه - بېلوي

#کووېډ-۱۹- ناورین - په - پانګوال - نظام - کې - د- پانګوالو- پانګه - ډېره - کړه

موږ الله سبحانه و تعالی ته خپل لاسونه لپه کوو چې زموږ عملونه قبول کړي او د نبوت پر منهج مو خلافت په برخه کړي، څو زموږ ځوان نسل او امت له پانګوال فاسد نظام څخه وژغوري.

**شباني موالیمو**

**د حزب التحریر- کینیا مطبوعاتي استازی**

۱۴۴۲ هـ.ق کال، د جمادي الاول ۱۵مه

۲۰۲۰م کال، د ډسمبر ۳۰مه

د صدور گڼه: ٠٦/ ۱۴۴۲